# په اورکزو کښې جرګه سسټم

# Jirga System in Orakzai

Dr. Muhammad Khalil (Shakir Orakzai)*

Abstract:

The Jirga is the one of most important cultural institution of the Pashtuns. It has served as traditional mechanism for resolving both internal and external issues among Pashtun communities for centuries. Across various Pashtun regions, the significance and value of the Jirga are widely acknowledged; through there are minor difference in its structure and functioning from area to area.

This article aims to highlight and explore the unique features of the Jirga system as practiced in Orakzai region. A detailed discussion has been presented to showcase the distinct characteristics and operational dynamics of the Jirga in Orakzai, offering insights into how it different from other regional systems while maintaining the cross Pashtun cultural essence.

**Keywords:** Pashtun, Jirga, Cultural institution, Orakzai region, Regional variations, unique features, Pashtun culture, conflict resolution, traditional mechanism.

د نړۍ په مخ پښتون یو هغه قام دے چې خپل تاریخ ، خپل ثقافت او ځانګړې پېژندګلو لري. د ژوند ژواک هم دغو ځانګړي خصلتونو دې قام ته یو امتیاز وربخښلے دے. پښتانهٔ په مختلفو قبیلو او ښاخونو کښې وېش دي. پښتون یو تاریخي قام دے . د دوي ژبه ، ثقافت او فولکلور هم ډېر پخوانے دے. د پښتنو د ابادۍ زیاته برخه په کلو بانډو او په غرئیزه سیمه مشتمله ده.

"اورکزي د پښتنو یوه مشهوره قبیله ده چې د پښتنو قبیلوي وېش کښې کرلاڼي دي" [i] او زیاته ابادي ئې په اورکزو ضلع کښې اوسي. دې نه علاوه په هنګو او کوهاټ کښې هم په ګڼ تعداد کښې اباد دي. د پېښور سره سره د نړۍ په نورو ښارونو کښې هم اباد

* Subject Specialist Pashto GHSS Muslimabad Kohat

دي. اورکزو ته د ایجنسۍ درجه د اروابناد مېجرجنرل (ر) جمالدار په کوششونو په نولس سوه درې اویایم (۱۹۷۳) کښې ورکړې شوې وه.. د اورکزو ضلعې لوېديز ته کورمه، ختيز ته کوهاټ او دره ادم خېل، شمال ته خېبر او جنوب ته ضلع هنګو واقع ده. د اورکزو اتلس قبیلې دي چې په مقامي سطح ورته قامونه وائي. څو غټې او مشهورې قبیلې ئې دا دي. علي خېل، ملا خېل، مِشتي، شېخان، دولت زي، اسماعيل زي، ماموزي، علي شېر زي، ماسوزي، برامد خېل، سيپا، مني خېل، په دې کښې برامد خېل، سيپا ،مني خېل او د ستوري خېلو انډخېل تپه شيعه دي او نور ټول سنيان دي. د ابادۍ په لحاظ سنيان ۸۵% دي او شيعه ۱۵%. ماسوزي او علي شېر زي په انتظامي توګه په کرمه کښې راځي.

لکه د نورو پښتنو قبيلو په اورکزو کښې هم د ژوند يو ځانګړے دستور دے او دا خبره به غلطه نۀ وي چې اورکزو په دې جديد دور (یوویشتمه پېړۍ) کښې هم خپل پښتني روايات تر ډېره حده ژوندي ساتلي دي او که لږ ډېر بدلون راغلے دے نو هغه د وخت غوښتنه ده.

## جرګه

جرګه د پښتنولۍ يوه ډېره اهمه برخه ده. د پښتو مشهور لغت درياب د جرګې څۀ داسې معنىٰ کوي

"غونډه، مرکه، ټولے ،د مشورې مجلس، د څۀ مسئلې د حل کولو په غرض راغونډ شوي خلک، مصلحت" [ii]

او د اردو مشهور لغت فېروز اللغات ئې داسې معنىٰ کوي

"آدمیوں کا مجمع، گروہ، پنچائیت، سرحدی قبائیلی علاقے میں وہ جماعت جو سنگین مقدمات یا اہم معاملات کے بارے میں فیصلہ دیتی ہے" [iii]

جرګې ته په پښتنه ټولنه کښې ډېر خاص اهميت حاصل دے تر دې حده چې دې ته د پښتنو سپريم کورټ هم وئيلے شي ولې چې د جرګې په ذريعه د پښتنو لوئې وړې هر قسمه مسئلې په ډېره اسانه او لږ وخت کښې هوارولې شي. نادر شاه شينواري د جرګې په حق له ليکي

"جرگے کو اس وجہ سے بھی خاص اہمیت حاصل ہے کہ یہ ایک عدالت کے طور پر بھی کام سر انجام دیتا ہے جو انصاف کو یقینی اور سستا بنا دیتا ہے"[vi]

جرګه د پښتنو یو ډېر زوړ رسم دے د دې د قدامت په حق له اروانباد ډاکټر راجولي شاه خټک په خپل کتاب "پشتون ولي" کښې لیکي

"جرگہ یا مرکہ پشتون رسومات و روایات میں بہت اہمیت رکھتا ہے اور تاریخی اعتبار سے یہ پشتون تہذیب کا قدیم ترین رسم ہے۔تاریخی تحقیقات سے معلوم ہوتا ہے کہ پشتونوں میں یہ رسم آریائی معاشرتی نظام کے زمانے سے چلا آرہا ہے"[v]

هر څو که نن د جرګې هغه اهمیت نۀ دے پاتې کوم دپاره چې جرګه مشهوره ده او د جرګې مشران هم هغه نۀ دي پاتې چې صرف د الله رضا دپاره به ئې جرګه کوله او د ټولنې د پرامنه او د خلکو د روغې جوړې دپاره به هر وخت سرګرم وو. اوس دوي هم لکه د وکیلانو او ججانو باقاعده پېسې (فیس) اخلي او چې په کومه جرګه کښې دوي ته څۀ ذاتي فایده نۀ وي نو دوي په کښې هغه دلچسپي نۀ اخلي کومه چې د جرګې د مشرانو یوه خوبۍ ګڼلې شوه خو بهر حال د جرګې خپل اهمیت او افادیت اوس هم شته چې د کورټ کچرۍ نه ډېر مؤثر او بهتر دے. په بندوبستي سیمو کښې د کچرۍ سسټم موجود دے خو بیا هم خلک خپل مېنځي اختلاف په جرګو لرې کوي. کله کله خو د کورټ د فېصلې باوجود د جرګې ضرورت محسوس شي ځکه چې کورټ او کچرۍ خو یوه فېصله کولې شي خو د فریقېنو تر مېنځ تاو تریخوالے نۀ شي لرې کولے. قبائیلي سیمو کښې د کچرۍ نظام نوے نوے راغلے دے خو بیا هم دلته اکثر مسئلې په جرګه مرکه هوارولے شي.

پښتانۀ متل کوي چې "که سل مړي اوکړې خو اخر به هم جرګې ته کښېنې" یعني د هرې مسئلې اخري حل جرګه دے. لکه څنګه چې د وکیلانو دپاره د ایل ایل بي د ډګرۍ ضرورت وي هم دغه شان د جرګې مشرانو دپاره هم خپل اصول او قوانین دي چې د هغې نه بغېر یو سړے د جرګې کولو اهلیت نۀ لري. دا قوانین څۀ په لیکلي شکل کښې نۀ دي ځکه چې جرګه د پښتنو د رسم و رواج یو اهم جز دے او رسم و رواج د کلتور یو څانګه ده د جرګې د مشرانو خپله یوه مخصوصه ژبه وي. دوي سره

په خپلو کښې په داسې اشارو او کنايو خبرې کوي چې عام اولس پرې ډېر کم پوهېږي نو ځکه دلته يوه اصطلاح د جرګې متعلق ډېره مشهوره ده چې "جرګه اسانه ده خو په جرګه کښې د خبرې پېژندل ګران دي" په جرګه کښې د مشرانو په خبره پوهيدل ځکه مشکل دي چې د دوي اکثر خبرې ذومعاني وي. دې نه علاوه د جرګې مشران اکثر د خپلې خبرې د پېل کولو نه وړاندې يو نقل (متل) يا کومه خاص واقعه (قصه) خامخا کوي. د يو مشر دپاره دا ضروري ده چې ورته ښۀ ډېر متلونه ياد وي چې د موقعې په مناسبت ئې ووائي. اروابناد راجولي شاه خټک ليکلي دي

"جرگتی ایک دانا شخص ہوتا ہے جو حکایتیں اور ضرب الامثال سے پوری طرح واقف ہوتا ہے۔ اس لیے کہ پشتون دانائی کا خزانہ پشتو ضرب الامثال میں پوشیدہ ہے۔ ضرب الامثال اس قسم کی روایت کی طرف اشارہ کرتے ہیں. اس لیے جرگے کے ممبران مثالوں کے ذریعے روایت کی سند پیش کرتے ہیں. ضرب الامثال کے علاوہ وہ مقولے بھی یاد رکھنا ضروری ہیں جو بزرگوں سے وابستہ ہیں. کسی بھی بزرگ کا قول فیصلہ کرنے میں راہنمائی کا حامل ہوتا ہے" [vi]

## شرشته

شرشته د جرګې دويم نوم دے. په اورکزو کښې د جرګې خپل يو مخصوص سستم دے. کوم خلک چې په جرګه پوهېږي نو هغوي ته "شرشته باز"، "جرګه باز"، "مشران"، "د ځلورو سړي"، "منځ لايان"او "منځي ګړي" وئيلے شي. کوم خلک، قام يا کاندے او خاندان چې په جرګه کښې مهارت لري نو د هغوي په اړه اکثر وئيلے کېږي چې دوي يوه ښه "شرشته" لري او په جرګه کښې قابليت لرونکي ته "شرشته باز" وئيلے شي. کوم سړے چې په جرګه پوهېږي هغه د ټولنې يو هوښيار سړے بللے شي.

## ليار (لار)

هر کله چې د دوو سړيو ،ډلو، ټبرو، کليو يا قامونو (قبيلو) تر مېنځ څۀ مسئله راپېښه شي نو که دا پېښه د معمولي نوعيت وي نو بيا خو د دواړو ډلو مشران په خپل مېنځ کښې کښېني او څۀ حل ئې راوباسي او که چرې دوي په خپلو کښې د مسئلې په هوارولو کښې ناکام شي او يا مسئله سنګينه وي نو په داسې صورت کښې بيا د بهر مشرانو ته خبره وړلے شي. د دې

هم دوه صورتونه دي يو دا چې دوي يو بل ته ووائي چې تاسو هم خپل د جرګې مشران راولي او مونږ به ئې هم راولو. دويم صورت دا دے چې يو فريق خبر هم نۀ وي چې دويم فريق د جرګې مشران راولي او دوي ته په سر کښېني او ورته ووائي چې مونږ فلاني سړي يا فريق رالېږلي يو او هغه ليار (لار) غواړي يا هغه وائي چې لارې ته دې راسره کښېني. ليار جرګې، د جرګې فېصلې او انصاف ته هم وئيلے شي. يعني ليار د جرګې په حواله په ګڼو معنو کښې پکارولے شي لکه ما سره ليار اوکړه يعني جرګه راسره اوکړه. فلانے بې لياره سړے دے يعني بې اصوله دے. مشرانو دا ليار تړلې ده يعني دا فېصله ئې کړې ده. ليار ئې ووروله يعني فېصله ئې ښکاره کړه. فلانے د لارې نه وتښتيدو يعني د جرګې فېصله ئې ونۀ منله. په فلاني قام کښې خو دا ليار شته خو دلته دا ليار نۀ چلېږي يعني په هغه قام کښې به د جرګې دا اصول وي خو دلته نۀ. مشرانو ليار وتړله يعني فېصله ئې اوکړه.

په اورکزو کښې د جرګې خپلې مخصوصې لياري (قوانين) دي. که چرته څوک غرۀ، ځنګل کښې يا د شپې مړ کړے شو او قاتلان ئې معلوم نۀ وي نو د مړي وارثان د شک په بنياد په کوم سړي يا ټبر د مړي دعوٰی اوکړي نو په دې صورت کښې دا ليار ده چې دا فريق به اويا (۷۰) کسان قسم کوي. که چرې په دې خاندان کښې خپل اويا کسان سړي نۀ برابرېږي او ضروري خبره ده چې دومره لوے ټبر ډېر کم وي چې اويا کسان سړي ولري نو بيا دوي د لرې خپل خپلوان هم راوستے شي چې قسم دپاره اويا کسان پوره کړي.

د غلې ډاکې دا ليار ده چې په کوم کس د غلې کولو دعوٰی وي يو هغه او يو ورسره د دې نزدې ترۀ تربور چې ساد يا ساز ورته وائي قسم کوي. دلته يوه خبره دغور قابله چې دا ساد يا ساز د دعوٰی کونکو په خوښه وي يعني دوي چې په چا ګوته کېښوده هم هغه به قسم کوي. په دې موقعه اکثر د داسې کس انتخاب کولے شي چې په ظاهره لږ ښۀ سړے وي او دوي ترې دا طمع وي چې دې به ناجائز قسم نۀ خوري.

د زمکې او د جائيداد دا ليار ده چې که څوک په يو پټي، غر يا په کوم بل جائيداد وغېره دعوٰی اوکړي نو په دې صورت کښې په اورکزو کښې دا ليار ده چې دعوٰی کونکي ته ګواه ورکړے شي او په چا چې دعوٰی ده هغۀ ته قسم. که چرې دعوٰی کونکي ګواه پېدا کړل نو بيا خو لانجه ختمه ده ګني بيا چې په چا دعوٰی ده هغوي لس کسان قسم اوکړي چې دا زمکه يا غر زما خپل دے او د دعوٰی کونکي په کښې هېڅ حصه

نشته.

## بدي

کله کله داسې هم کېږي چې فریقېن د جرګې انتظار هم ونهٔ کړي او په یو بل ډزې اوکړي او یا داسې هم اوشي چې د جرګې مشران داسې فېصله اوکړي چې یو فریق ته منظوره نهٔ وي نو په دې صورت کښې هم دوي د مخالف فریق په مېلو (کورونو) ډزې اوکړي. که چرې مسئله د جائیداد، دولت یا بل کوم د معمولي نوعیت وي نو فریقېن بیا د سړي ویشتلو شعوري کوشش نهٔ کوي صرف په مېلو (کورونو) او مورچو ډزې کوي او سړي هېڅ قسمه کار روزګار ته نهٔ پرېږدي. دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې یو فریق د بل فریق ماشومانو، بوډاګانو او ښځو ته هېڅ قسمه نقصان نهٔ رسوي او نهٔ وربانديې ډز کوي. په پښتنه ټولنه کښې د ماشومانو، بوډاګانو او ښځو ډېر خیال ساتلے شي. تر دې حده چې پښتانهٔ په بدي کښې هم په دوي لاس نهٔ پورته کوي. که څوک بدبخت داسې اوکړي چې په ماشومانو، بوډاګانو او ښځو ګوزار اوکړي نو بیا داسې سړي ته کم سیال وئیلے شي. د کم سیالو خلکو د دوستۍ او دښمنۍ نه هر څوک پناه غواړي.

## وولہ

هرکله چې د فریقېنو ترمېنځ ډزې روانې وي نو د شاوخوا خلک راځي او خپل څادرونه په مورچو کښې ناستو خلکو ته وخوزوي چې تاسو ډزې بند کړئ. دا ډز بندي عارضي او مختصر وخت دپاره وي چې په مقامي اصطلاح کښې ورته "وولہ" وائي. د وولې په دوران کښې د روغې جوړې کوشش کېږي که چرې د مسئلې څهٔ فوري حل را ونهٔ ځي نو بیا دا خلک د هغې ورځې تر ماښامه وولہ اوکړي. وولہ د کاڼي (تیګې) دویم شکل دے خو فرق په کښې دا دے چې "وولہ" انتهائي ایمرجنسي حالت کښې یوې لنډې مودې دپاره کولے شي. که په ډزو کښې څوک مړ شي یا په خپل مرګ مړ شي نو د هغه قبر او ګور کفن د بندوبست دپاره هم وولہ کولے شي.

## کاڼے (تیږه)

کاڼے چې ډېر پښتانهٔ ورته تیږه وائي د جرګې یو ډېر اهم جز ګڼلے شي. اروابښاد ډاکټر راجولي شاه خټک په خپل کتاب پښتون ولي کښې لیکي

"گاؤں کے چند سفید ریش، بزرگ دونوں خاندانوں یا متحارب گروہوں کے درمیاں پہلے ایک عارضی جنگ بندی یا فائر بندی کرا لیتے ہیں اس فائر بندی کے لیے پشتونوں میں صدیوں پرانی ایک رسم ہے جس کو تیگہ رکھنا کہا جاتا ہے" vi i

پښتنانهٔ د کاڼي ډېر خیال ساتي تر دې پورې چې د کوم فریق څوک سړے ووژلے شي او د جرګې مشران راشي او دوي نه د کاڼي غوښتنه اوکړي نو دوي ئې خیال وساتي او کاڼے اوکړي. د کاڼي موده لږه هم کیدے شي او زیاته هم. دا په فریقېنو دارومدار دے. د کاڼي په دوران کښې څوک هم په خپل دښمن څهٔ پام غرض نهٔ ساتي. که د سر دښمن ئې هم وي خو پښتانهٔ تر خپله وسه د کاڼي پوره پوره لحاظ ساتي. که چرې څوک د کاڼي خیال ونهٔ ساتي نو د هغهٔ خلاف نهٔ صرف هغه مشران چې دوي ترمېنځ ئې کاڼے کړے وي بلکې پوره قام راپاڅي او هغه جرمانه ترې واخلي کومه چې مشرانو د کاڼي په وخت مقرره کړې وي. دا جرمانه د نغدو پېسو او د څو مېلو (کورونو) د سوزولو په شکل کښې وي. که چرې دوي نغدې پېسې نهٔ ورکوي نو بیا دوي کورونه وسوزولے شي او تر هغه وخت جلا وطن کړے شي چې تر څو ئې دا جرمانه نهٔ وي لنډه کړې.

## ګاڼه

ګاڼه هم د جرګې یوه اهمه برخه ده چې په نورو پښتنو سیمو کښې ورته مچلکه هم وائي. هر کله چې د جرګې مشران را جمع شي او د دواړو ډلو بیان واوري نو بیا دوي دواړو نه د ګاڼې غوښتنه اوکړي. ګاڼه یو قسم ته ضمانت دے او مقصد ئې د جرګې د مشرانو د فېصلې ته اهمیت ورکول هم دي. څهٔ وخت وړاندې پورې د ګاڼې په صورت کښې دواړو ډلو نه څو څو ټوپکونه کېښودلے شول چې د ټوپکو شمېر به د مسئلې د نوعیت مطابق وهٔ. که مسئله به لویه وه نو زیات ټوپک به ئې کېښودل او که مسئله به وړه وه نو بیا به ئې کم ټوپکونه کېښودل. نن سبا د ټوپکو ځاے نغدو پېسو نیولے دے. د ګاڼې اخستو نه وروسته مشران د جرګې د فېصلې دپاره یوه ورځ وټاکي چې په مقامي اصطلاح کښې ورته "وعده" وائي. د جرګې د فېصلې د مشکلاتو په صورت کښې څو څو وعدې کولے شي. چې کله د جرګې مشران خپله لیار (فېصله) ښکاره کړي نو بیا د دواړو ډلو مشرانو

ته دا موقعه ورکولے شي چې هغوي د خپلو خيالاتو اظهار اوکړي. که ليار دواړو ډلو ته منظوره وي نو بيا د جرګې مشران دواړو ډلو ته خپله ګانړه واپس کړي خو د ګانړې واپس کولو هم خپلې پېسې اخلي. که چرې يوه ډله دا ليار ونۀ مني نو د هغه ډلې ګانړه مشران ضبط کړي او ثبوت دپاره ئې ځان سره ساتي که بل ځوک سبا په دې مسئله جرګه کوي نو دوي پرې راپاځي چې مونږ دا فېصله کړې ده او دې ډلې نۀ ده منلې او دا ګانړه ئې مونږ سره بطور ثبوت اوس هم پرته ده.

داسې هم اکثر کېږي چې د جرګې مشران د يوې ډلې نه پېسې (رشوت) واخلي او ليار سمه ونۀ تړي (فېصله کښې ناانصافي اوکړي) نو متاثره ډله بيا نور مشران راولي او د جرګې دا فېصله چېلنج کړي. دا مشران هم اول د دواړو ډلو نه بيان واخلي او بيا د تړلې لياري (د جرګې فېصلې) نه ځان خبر کړي. که چرې واقعي ناانصافي شوې وي نو بيا دوي د نوي سره بله ليار وتړي او که ناانصافي نۀ وي شوي نو بيا دوي دې ډلې ته مخ وروارووي چې د دې مسئلې هم دا ليار ده.خو داسې ډېر کم کېږي ولې چې نن سبا جرګه هم هغه نۀ ده پاتې چې هره خبره به د ذاتي مفاداتو نه بالا تر وه. اکثر داسې کېږي چې دا دويمه جرګه هم د دې فريق نه پېسې واخلي او د هغوي په حق کښې فېصله اوکړي. او داسې اولنۍ ليار (فېصله) ماته شي. کله کله داسې هم اوشي چې د دواړو جرګو تر مېنځه مقابله هم راشي چې هر يو خپله تړلې ليار (فېصله) سمه ګڼي او بيا خبره تر لرې لاړه شي. په دې صورت کښې د اورکزو په سطح منلي شوي مشرانو ته خبره مخې ته کېښودلے شي او دلته بيا دوي د اورکزو د مختلفو قومونو د جرګو ليارو (اصولو) ته د کتو نه پس د يوې جرګې ليار سمه وګرځوي که دې نه پس هم ځوک دا ليار نۀ مني نو هغه بيا کبرژن بللے شي ولې چې د اورکزو په سطح دا فېصله د سپريم کورټ فېصله تصور کېږي چې بيا چرته هم نۀ چېلنج کېږي.

نن سبا ګانړه د نغدو پېسو په شکل کښې اخستلے کېږي او د جرګې د فېصلې نه پس اکثر خوړلے کېږي. يعني که دواړه ډلې فېصله ومني نو بيا هم دوي ځان ته دا جواز جوړوي چې د مسئلې فېصله د خېر سره ترسره شوه نو دغه پېسې بيا دوي په خپل مېنځ کښې ووېشي.

ګانړه د جرګې د دې رسم نه علاوه په نورو معنو کښې هم استعمالېږي. لکه د نغدو پېسو

په بدل کښې چا سره څۀ څيز کښېنودل يا زمکه او پټے وغېره د نغدو پېسو يا د يو بل کوم څيز په بدل کښې تر هغې ګانه کول چې تر څو دغه پېسې يا څيز واپس کړے شوے نۀ وي.

## د قسم شپه

د قسم شپه په اورکزو کښې د جرګې يو اهم قانون پاتې دے چې د ځينو خلکو له خوا ئې شديد مخالفت هم کېدو او د ظلم شپه به بلل کېده. د جرګې مشرانو به ليار وترله او يوې ډلې يا سړي ته به ئې قسم ورکړو يعني چې دا سړے به درته قسم اوکړي چې دا پټے ، غر يا کوم بل شے زما دے او يا دا چې په دې به د مخالفې ډلې له خوا کومه دعوٰی وه دې د قسم خوړو سره د هغې ترديد اوکړي. دې مشرانو به چې کوم فريق ته د قسم کولو حق ورکړو نو په هغه فريق به ئې څۀ نغدې پېسې هم مقررې کړې کومې به چې د جرګې مشران په خپل مېنځ کښې وېشلې. دې نه علاوه به ئې څۀ پسونه او ګډان هم په دغه شپه حلالول. د قسم شپه يو قسم ته جابرانه دستور دے نو ځکه ئې اوس هغه اهميت نۀ دے پاتې او ورو ورو په ختمېدو دے. د دې شپه په اړه د مشرانو استدلال هم څۀ دومره زورور نۀ دے دوي وائي چې د قسم سره دې فريق ته ګټه په لاس ورځي نو ځکه مونږ هم ترې خپل حق اخلو خو اکثر د قسم کول د يو فريق انتهائي مجبوري وي ګني قسم کول يا ئې بل نه اخستل څۀ معمولي خبره نۀ ده. اورکزي قسم کول او قسم اخستل يو غېر معمولي عمل ګڼي ځکه چې کوم کسان قسم اوکړي هغوي خپل ځانونه مړۀ حسابوي. په دې موقعه دوي وائي چې فلاني زمونږ سرونه پرې کړل.

## واک

واک اختيار ته وائي خو دا هم د جرګې تر ټولو اهم جز دے ولې اکثر مشران کوشش کوي چې د فريقېنو تر مېنځ فېصله په قسم نه بلکې په واک فېصله کړي. قسم سره چې کومه لانجه حل شي نو بيا د دواړو فريقېنو تر مېنځه زړۀ بدون (خفګان) تر ډېره وخته موجود وي. نو ځکه د مشرانو دا کوشش او خواهش وي چې خبره په واک فېصله کړي. د واک رسم داسې دے چې مشران د دواړو فريقېنو نه د واک غوښتنه اوکړي د واک اخستلو يوه طريقه دا ده چې يو مشر په خپل لاس کښې څۀ څيز ونيسي او يو او بيا بل

فریق ته ورشي چې په دې لاس کېږده هر کله چې دواړه فریقه پرې لاس کېږدي نو د دې دا مطلب شو چې دوي د جرګې مشرانو ته د فېصلې واک ورکړو. چې یو ځل فریقېن واک ورکړي نو بیا دوي د جرګې د فېصلې منلو پابند وي ځکه چې لیار (د جرګې فېصله) ماتیدلې شي خو په واک باندې بل واک نهٔ شي اخستلے کیدے. د واک هم دوه عام قسمونه دي یو مشروط واک دے چې یو فریق د واک ورکولو په وخت د جرګې مشرانو ته یو حد وښئي نو په دې صورت کښې که د جرګې مشر د هغه حد نه تجاوز اوکړي نو دا فریق بیا د جرګې د منلو پابند نهٔ وي ولې چې دې کوم واک ورکړے وهٔ هغه مشروط وهٔ. دویم د اوبو وړے واک دے چې په دې کښې د جرګې د مشرانو هره فېصله اخري او حتمي فېصله تصور کېږي چې منل ئې په دواړه فریقېنو لازم وي.

## د جرګې پسهٔ

هر کله چې جرګه روانه وي او څهٔ حتمي فېصلې ته نهٔ وي رسیدلې نو په دې دوران کښې چې د ټیکالې (ډوډۍ) وخت شي نو دواړه ډلې د جرګې مشرانو ته پسونه او مړونه (ګډان) حلالوي چې د جرګې پسهٔ ورته وئیل کېږي. هر ډله خپل خپل مشران ځان سره بوځي او غوښې پرې وخوروي. دې نه علاوه چې د جرګې د مشرانو فېصله ومنلے شي نو په دې موقعه هم مشران دا اعلان اوکړي چې دواړه ډلې دې دومره پسونه یا مړونه حلال کړي او دومره دومره د نغدې پېسې هم راوړي. دې پسونو یا مړونو او نغدو پېسو ته هم د جرګې پسهٔ وئیلے شي. په جرګه کښې موجود ځینې تقوٰی دار مشران د جرګې پسهٔ نه ډډه کوي.

## ناغه

ناغه د جرمانې دویم نوم دے. څوک چې څهٔ داسې جرم اوکړي چې د کلي او علاقې د رسم و رواج ته پرې نقصان ورسي او یا د جرګې د مشرانو د څهٔ فېصلې ښکاره خلاف ورزي وي نو په دې صورت کښې متعلقه سړي یا ډلې نه جرمانه اخستلے شي چې په دلته ورته په عامه اصطلاح کښې ناغه وئیلې شي.

## زرے

په اورکزو کښې چې د چا څۀ ورکه اوشي او يا ئې کوم نور تاوان اوشي چې غل او ملزم ئې معلوم نۀ وي نو دې دپاره خپل ځانګړے رسم دے چې زرے ورته وئيلے شي. د دې طريقه داسې ده چې د کوم سړي ورکه يا څۀ نور زيان شوے وي خو هغۀ ته خپل دښمن معلوم نۀ وي يو داسې سړے چې هغۀ ته دا ملزم معلوم وي خو په پټه راشي او دے ته ووائي چې زۀ درته هغه سړے ښايم چا چې دا جرم کړے دے خو دومره پېسې به هم راکوې او زما نوم به هم چا ته نۀ ښائي. دا د زري بنيادي نقطه ده چې زري خور نوم به په راز کښې ساتلےشي. زري خور ته د معاملې د نوعيت په مناسبت پېسې ورکولے شي. دا پېسې هم په دې شرط ورکولے شي چې غل يا مجرم د جرم اعتراف اوکړي که چرې هغۀ انکار اوکړو او قسم ئې وخوړو چې دا کار ما نۀ دے کړے نو په دې صورت کښې بيا زري خور ته پېسې نۀ شي ورکولے کيدے.

هر کله چې زري خور دے سړي ته هغه مجرم وښايي نو دا سړے لاړ شي په هغه کلي کښې اعلان اوکړي چې زما دا ورکه شوې ده يا مې دا زيان شوے دے خو اوس په دې کلي کښې (په يو کس يا ډېر چې څومره ورته زري خور ښودلي وي) زرے غواړي. تر فلانۍ ورځې پورې تاسو ته مهلت دے. که څوک کُرار شول (اعتراف اوکړي) نو هېڅ خبره نۀ ده ګني بيا پرې زۀ دومره دومره زرے ورکوم. دا يو قسم ته دړکه ده چې اصل مجرم وډروي ولې چې که سبا چرته د زري اخستو نه پس په جرګه کښې دا مجرم د جرم اعتراف اوکړي نو د نورې ناغې (جرمانې) تر څنګ ترې د زري دا پېسې هم اخستلے شي.
د مهلت ورځو په دوران کښې که چا اعتراف اوکړو نو صرف هغه شوے تاوان او څۀ لږه شان ناغه (جرمانه) ترې واخستلے شي او زري خور ته د رسم مطابق پېسې نۀ شي ورکولے او که د مهلت ورځ تېره شي او څوک کُرار نۀ شي نو بيا د جرګې دپاره يوه ورځ وټاکلې شي. د جرګې مشران د لياري مطابق دے سړي ته د قسم حق ورکړي که چرې دے قسم اوکړو نو بيا زري خور ته پېسې نۀ شي ورکولے کيدے او که چرته د قسم نه ستون شو او د جرم اعتراف ئې اوکړو نو بيا د جرګې مشران په دے مجرم د شوي تاوان سره سره يوه درنه جرمانه هم ولګوي او د زري پېسې ادا کول هم په دۀ ضروري شي.

**لښکر**

په اورکزو کښې لښکر د جرګې يو اهم جز دے. دلته چې څوک څۀ سنګين جرم اوکړي نو

اول خو پرې خپل قام راپاځي او يو لښکر جوړ کړي او ورنه د کړي جرم تپوس کوي که چرې جرم داسې وي چې ټولو اورکزو سره ئې تعلق وي يا مجرم زورور وي نو بيا د اورکزو د ټولو قامونو يو مشترکه لښکر جوړ شي او د مجرم کلي کور ته راشي اول ئې د ټول ټبر کورونه وسوزولے شي او بيا پرې ناغه مقرره کړې شي او چې ترڅو ئې دا ناغه نۀ وي لنډه کړې د وطن نه جلا وطن کړے شي.

په لښکر کښې ډول سرنې اهم کردار کوي. تر څو پورې چې لښکر ختم شوے نۀ وي نو په مختلفو موقعو او مختلفو ځايونو کښې د ډول سرنې محفلونه گرمولے شي. که يو طرف ته د مشرانو جرگه روانه وي نو بل طرف ته د ځوانانو بلبله (اتڼ) شروع وي.

په لښکر کښې د راغلي خلکو تعلق د لرې سيمو سره وي او په اورکزو کښې د بازارونو او هوټلونو هم څۀ خاص اسانتياوې نشته نو دا ټول خلک د ټيکالې (ډوډۍ) په وخت په کليو تقسيم شي. د کلي خلک د لښکر د ټيکالې او د شپې د انتظام ذمه وار وي.

## چيغه

چيغه هم د لښکر يو شکل دے. خو په دواړو کښې فرق دا دے چې لښکر د صلاح مشورې نه پس جوړېږي او چيغه په ناساپي پېښه جوړه شي. د مثال په توگه د يو کلي مال (څاروي) چې غلۀ ډاکوان بيايي نو غوبانۀ (شپانۀ) شور جوړ کړي او که کوم چا سره ټوپک وي نو ډزونو اوکړي د کلي خلک ټول د کورونو نه ټوپک راواخلي او په غلو پسې روان شي. دوي په لاره لاره ډزونه هم کوي. دوي تر هغې په غلو ډاکوانو پسې منډې وهي چې يا غلۀ ونيسي او يا ترې مال راخلاص کړي. دغه شان چې کومه ناساپي پېښه هم راپېښېږي نو د کلي خلک چيغه جوړه کړي. چيغه د کلي مشترکه عمل دے. دې کښې دې ته نۀ شي کتلے چې د چا مال يا کوم بل زيان کېږي خو چې غږونه او ډزونه شروع شي نو هر سړے د خطرې ځاے ته ځان رسوي. چيغه يو ډېر مؤثر عمل دے د دې په ذريعه د ډېرو ناوړو پېښو مخ نيوے ممکن شي.

## لوښے

زما د معلوماتو تر مخه لوښے د اورکزو يو مخصوص او منفرد رسم دے. يو سړے يا ټبر چې کمزورے وي او د خپل دښمن مقابله نۀ شي کولے نو هغه په کلي او علاقې کښې يو زورور سړي يا ټبر ته لوښے ورکړي. کوم چا ته چې لوښے ورکړے شي نو دا سړے يا ټبر د

لوښي ورکونکي سړي نائیکان ګڼلے شي. د لوښي په ذریعه دا ټبرې سره وتړلے شي. د لوښي نه پس چې څوک دے سړي یا ټبر سره زور زیاتے کوي نو دوي راپاڅي او په سر ئې جرګه هم کوي او جنګ هم. د لوښي ورکولو رسم داسې دے چې کمزورے سړے به څو پسونه یا مرونه او کله کله غوا هم ځان سره بوځي او چې چا ته لوښے ورکوي د هغۀ په کور کښې ئې حلال کړي او بیا اعلان اوکړي چې ما فلاني ته لوښے ورکړو. لوښي اخستونکي به هم اعلان اوکړي چې ما د فلاني سړي لوښے قبول کړو د نن نه پس که دۀ سره چا بدي یا زور زیاتے کولو نو دا به زما سره زور زیاتے وي. لوښي دپاره د خپل قام سړے ضروري نۀ دے دا په بل قام کښې هم ورکولے کیدے شي. د بندوبستي سیمو خلک چې په رعایت کښې کوم جرم اوکړې نو د پولیس نه د بچ کیدو دپاره به ئې اورکزو ته تیښته کوله او یو چا سره به ئې پناه واخسته. دوي یا خو خپل دوست، پیژندګلو یا داسې سړي ته ورتلل چې دوي ورته لوښے ورکړے وے او که لوښے ئې له ورانډې نه نۀ وے ورکړے نو په دې موقعه به دوي خپله مجبوري وړاندې کړه او لوښے به ئې ورکړو. چې یو ځل څوک لوښے ورکړي نو بیا دا سړے د دې خاندان خپل سړے تصور کیږي. نن سبا چونکې په خلکو کښې ماده پرستي او مفاد پرستي سیوا شوې ده نو د لوښي دې رسم هغه اهمیت نۀ دے پاتې ولې چې څوک دومره لبوني دي چې د پردو خلکو غمونه په خپل سر واخلي. نن سبا خو خلک خپلو غمونو ته هم نۀ دي وزګار نو د نورو د غمونو به سړے څۀ ووائي.

## ګوندي

ګوندي د ډلې یا فریق په معنو کښې استعمالیږي. د ګوندي نه مطلب د یو سړي یا ډلې مرسته ملګرتیا کول دي. کله کله چې د دوو ډلو تر مینځه څۀ لانجه راپورته شي نو د شاوخوا خلک نیم په یوې او نیم په بلې ډلې ودریږي. دغه شان د جرګې مشران هم د جرګې په دوران کښې د خپلې ګوندي لحاظ ساتي. د ګوندي نه یو مطلب دا هم دے چې زۀ به ستا مرسته کوم او تۀ به زما. په ګوندي کښې دې ته نۀ شي کتلے چې زۀ د چا مرسته کوم دا ظالم دے که مظلوم خو بس زما د ګوندي سړے دے نو مرسته ئې په ما ضروري ده. دا یو داسې بد رسم دے چې د قران پاک د دې ایت

وَتَعَاوَنُوۡا عَلَى الۡبِرِّ وَالتَّقۡوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوۡا عَلَى الۡاِثۡمِ وَالۡعُدۡوَانِ ۖ

ژباړه: "تاسو د خیر او نېکۍ په کارونو کښې د یو بل مرسته کوئ او د ګناه او ظلم په کار کښې د یو بل مرسته مه کوئ" [viii] سره سمونه نۀ خوري ولې چې په ګوندي کښې د خپلې ډلې په پټو سترګو مرسته کېږي اګر که هغه ظالم ولې نۀ وي.

## شلګون

شلګون هم د جرګې یو ځانګړے قانون دے. په کومو سیمو کښې چې غرونه او ځنګلونه مشترک دي هلته د شلګون رسم اوس هم شتون لري. د کلي، ټپې یا قام د شریکو غرونو ، ځنګلونو د ساتلو دپاره یوه کمیټۍ وي چې په شلګون مشهوره وي. دا شلګون د شریک غر او ځنګل د حفاظت ذمه وار وي. په شریک غر یا ځنګل کښې که کوم سړے په پټه یا ښکاره لرګي وغېره ووهي نو دا شلګون (کمیټي) هغه سړي پسې ورځي او ناغه (جرمانه) ترې اخلي. دا جرمانه د وړاندې نه ټاکلې شوې وي. یعني چا چې څومره لرګي وهلي وي د هغې په مناسبت ترې ناغه اخستلے شي. د شلګون د نوم په اړه ځینې مشران وائي چې دا ناغه به شل روپۍ وه نو ځکه ورته شلګون وائي خو د زما د تحقیق تر مخه دا جرمانه په مختلفو سیمو کښې مختلفه وي چرته کمه او چرته زیاته نو ځکه د شلو روپو نوټ (شلګون) سره څۀ سمون نۀ خوري. شلګون د غرونو ، ځنګلونو په ساتلو کښې ډېر اهم کردار ادا کوي.

## قام زونه

قام زونه د اورکزو یو داسې رواج او دستور دے کوم ته چې د یو مهم قانون درجه حاصله ده. دا دستور یا قانون د پښتنو په نورو سیمو کښې زما د معلوماتو تر مطابق وجود نۀ لري. دلته ورته په مقامي لهجه کښې "قام زونه" وائي. دا یو داسې دستور دے چې د اورکزو په امن کښې ئې مرکزي او کلیدي کردار ادا کړے دے. د دې اطلاق په دوو طریقو کېږي، یوه دا چې د چا څنګه دښمني او بدي هم وي خو د جمعې او د اختر په ورځ به څوک په خپل دښمن ګزار نۀ کوي. مطلب دا چې په دې ورځو کښې هر دښمن ښۀ بې خطره ګرځي. که څوک د جمعې یا د اختر په ورځ دا غلطي اوکړي او خپل دښمن ته څۀ زیان تاوان ورسوي نو د قام زونې قانون او دستور دا دے چې دا سړے به سره د

ټول خاندان څۀ مودې دپاره جلا وطن کولے شي. ټولې ودانۍ او مېلې (کورونه) به ئې سوزولے شي او يوه درنه جرمانه ورنه هم اخستل کېږي. تر څو چې ئې هغه جرمانه نۀ وي ادا کړې وطن ته نۀ شي راستنېدلے. د جمعې او د اختر ورځو نه علاوه هم د څۀ خاص مصلحت يا د مشترکه ستونزې او بهرنۍ کشالې له وجې په ټول اورکزو او کله کله د يو قام په خپلو کښې دا "قام زونه" د ټاکلې وخت دپاره نافذ کړي. په دغه موده کښې ټولې دښمنۍ په عارضي توګه معطل شي.

## پراره

پراره هم د جرګې يو اهم جز دے. که چرته څوک په جنګ او جګړه کښې زخمي شي هغه که په سوک، کوتک، کاڼي او که په ډز وي نو دې دپاره دلته يو قانون موجود دے چې پراره ورته وئيلے شي. هر کله چې د جرګې مشران د يوې داسې لانجې روغه جوړه کوي چې څوک په کښې زخمي شوي هم وي نو دوي د پراژلي (ژوبل تن) دپاره يو مناسب تاوان مقرر کړي. د دې تاوان هم دوه قسمونه دي يو د معمولي پراژلي تاوان دے چې هډوکے ئې نۀ وي مات شوے او دويم سخت پراژلے چې هډوکے ئې مات شوے وي. دهډ ماتي (چې هډوکے ئې مات شوے وي) پراژلې پراره (تاوان) د مړي د نيم تاوان برابر وي. پراژلے چې يو ځل پراره واخلي نو بيا هغه خپل بدل نۀ شي اخستلے او دا لانجه همېشه دپاره ختمه تصور کېږي.

## تاوان

تاوان په دوه قسمه دے، يو هغه چې څوک چا ته څۀ زيان ورسوي هغه که د ځان په شکل کښې وي او که د مال خو د هغې يو مناسب قيمت سره د ملامتې ورکړي او لانجه ختمه شي. دويم تاوان يو ځانګړے قسم دے چې نور پښتانۀ ورته سوره هم وائي.

## نېک

د مړي خون بها اخستلو ته په اورکزو کښې نېک وئيلے شي. يعنې يو څوک د جرګې د لارې د يو مړي (وژلي شوي) تاوان واخلي او خپل مړے وبخښي نو په دې موقعه وئيلے شي چې فلاني د فلاني نه نېک واخستو. نېک (خون بها) د جرګې د لارې ټاکلے شي خو دا رقم د جرګې مشران په خپله خوښه کمولے او زياتولے نۀ شي ولې چې دې دپاره هم د

وړاندې نه يو حد تاکلے شوے وي. يعني دا د وخت سره بدلېږي خو بيا هم دا رقم د يو قانون په توګه په ټوله اورکزۍ کښې موجود وي.

## پور

پور ته په عامه توګه بدل يا قصاص هم وائي او دا د قرض په معنو کښې هم کارولے شي. دې نه علاوه "پور" د تاوان او نيکي په توګه هم زمونږ په ټولنه کښې رواج لري. د پور متعلق زمونږ په فولکلور او اولسي شاعرۍ کښې ډېر تذکرې مخې ته راځي. لکه دا نقلونه (متلونه) چې "پور د نر سرې ميږۀ دے" يا "پوروړي چا نۀ دي وژلي"، "دنيا په پور ودانه ده". دغه شان يوه محاوره ده چې "پور پرې کول" يعني يو څوک چې مړ شوي نو پښتانۀ وائي چې فلاني پور پرې کړو.
پښتانۀ د پور ډېر خيال ساتي. تر دې چې په مړي ژوندي کښې هم د پور بدل خيال ساتي. يو څوک چې د چا د مړي جنازې پاتا کښې نۀ شريکېږي نو دوي ئې هم بيا د مړي جنازې پاتا ته نۀ ورځي.
دې نه علاوه پور په يو چا باندې د مړي پراژلي د بدل په معنو کښې عام مستعمل دے. نن هم د جرګې د لارې د پور پوره کولو يا پور لنډولو رسم وجود لري. لکه څنګه چې وړاندې د "پراره"، "تاوان" او "نېک" ذکر اوشو، په وسيع معنو کښې دا ټول د جرګې رسمونه د "پور" په دايره کښې هم راځي.

## ګرمه

ګرمه هم د پښتنو د جرګې يو مهم توکے دے. دا تورے عموماً د ګرم نا ګرم، پړې وړې يا پړ وړ، حق ناحق او ګناهګار او بې ګناه ثابتېدو نه وروسته په عمل کښې راځي. هر کله چې د دوو ډلو ترمېنځ څۀ ستونزه، لانجه يا جنګ جګړه راپېښه شي او دواړه ډلې ځانونه په حقه بولي. په داسې صورت کښې د جرګې مشران د دواړو ډلو بيان واوري او بيا فېصله اوکړي. د کومې ډلې چې زياتے ثابت شي نو دغه جرګه په هغوي څۀ جرمانه کېږدي، عموماً دغه د پسونو او مږونو په شکل کښې وي. دې جرمانې ته په اورکزو کښې ګرمه وائي. ګرمه منل، ګرمه ورکول، ګرمه اخستل، ګرمه خوړل او ګرمه واپس کول يا ګرمه معاف کول ترکيبونه او اصطلاحات هم د ګرمې مختلفو نوعيت عکاسي او

ترجماني کوي. اورکزو کښې د ګرمې حوالې سره يو نقل (متل) مشهور دے چې: "تربور وهه په ګرمه ئې مه شرمېږه"

## ننواتې

ننواتې د پښتونولۍ يو داسې توکے دے چې د کالونو بدۍ پرې ختمېږي او د سر دښمن ته هم پرې معافي کولے شي.

د معافي غوښتلو او معافي کولو تصور په نورو قامونو کښې هم شته او سپېځلي اسلام هم معافي کولو ته غوره عمل وئيلے دے. ننواتې اصل کښې په خپل کړي ظلم او زياتي پښېمانتيا ښکاره کول دي، نو چې يو څوک په خپل کړي جرم پښېمانه شي او راتلونکي کښې د داسې جرم د نۀ کولو کلکه اراده کړي نو په پښتونولۍ کښې بيا داسې مجرم خامخا بخښلے شي. د ننواتې دستور په ټوله پښتنوخوا کښې رواج لري خو د دې مختلف قسمونه دي، پوهاند صديق الله رښتين ليکي:

> "د يوې ګناه بخښلو دپاره د چا عذر کول او کور ته ورتلل ننواتې ده..... په ننواتې کښې سپين ږيري، ملايان، او مياګان استول کېږي، خو په زياتو کښې ښځمنې او تورسرې برخه اخلي...... په ننواتې کښې زيات پښتانۀ ځان سره پسونه هم بيائي او بيا ئې حلالوي. دغه شان قران هم له ځان سره وړي."[ix]

پښتونولۍ کښې ننواتې ته په درنه سترګه کتلے شي نو ځکه ننواتې خامخا قبلولے شي او که څوک د ننواتې نه سر وغړوي نو داسې سړي ته بيا بې پښتو وئيلے شي او "بې پښتو" په پښتنه ټولنه کښې پېغور دے.

په اورکزو کښې د ننواتې دې رسم ته "نغرے نيول، کټ پښه نيول، ملامته ورکول يا ځان ملامته کول، پړه منل او سر ټيټے کول هم وائي.

د نغري (انغري) نيول په دې معنا دي چې څوک يو ځل د چا کور ته په ننوانې ورشي نو بيا تر هغې نۀ پاڅي چې تر څو ئې ننواتې نه منلې شوې. هم دغه شان "کټ پښه نيول" هم دي. د کټ پښې نيولو رسم داسې دے چې کله څوک د چا د لاسه ووژلے شي نو په موقعه هغوي د خپلې غلطۍ او جرم اعتراف اوکړي. کله چې د مقتول مړے د جنازې مونځ نه پس د ښخولو دپاره قبر ته کوزلے شي نو په دغه موقعه دوي د جنازې د کټ پښه ونيسي او اعلان اوکړي چې مونږ ملامته يو او هرې سزا ته تيار يو. په دې موقعه دوي سره د

سیمې مشران، ملایان او سپین ږیري هم وي. پښتو ډېره زوروره ده نو د زورورې پښتو له مخې د مړي وارثان هغوي ته یا خو په موقعه بخښنه اوکړي او یا بیا مهلت وغواړي. د مهلت په صورت کښې مشران او سپین ږیري د یو څو ورځو دپاره د دوي ترمنځ د صلحې اعلان اوکړي. د دې مطلب دا وي چې د مړي د دعا پاتا رسم سر ته ورسېږي نو بیا به پرې د جرګې او ننواتې د رسم مطابق خبرې اترې کولے شي.

په ننواتې کښې د جرم نوعیت ته کتلے شي او د هغې مطابق پسونه، مږونه او غوا غوایان حلالولے شي. کله کله داسې هم اوشي چې په ننواتې کښې را وستلي څناور ژوندي واپس کړے شي او ننواتې منظوره کړې شي.

موجوده وخت کښې د اورکزو جرګه هم ډېره بدله شوې ده. په دې مقاله کښې ذکر شوي د جرګې اکثر رسمونه یا خو مکمل بدل شوي او یا بیا په کښې تر ډېره حده بدلون راغلے دے. خصوصاً د فاتحا ضم کیدو وروسته خو جرګه هغسې نۀ ده پاتې ولې چې اوس عدالتونو هم خپل کار پېل کړے دے خو بیا هم اکثر ستونزې د جرګې د لارې هوارولے شي.

# حوالې

i: کاکا خېل، سید بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې،پېښور، یونیورستي بک ایجنسي خېبر پښتونخوا ،اشاعت نهم،۲۰۱۲، مخ۱۰۹۱
ii: قلندر مومند ، دریاب، این ډبلیو ایف پي ټیکسټ بک پېښور
iii:فیروزاللغات،جدید،نیاایڈیشن
iv:شینواري،نادر شاه، جرگه،پشتواکیڈمی پشاوریونیورسٹی بہ اشتراک لوک ورثہ اسلام اباد،۲۰۰۸،ص۵۹
v: راجوالی شاه خټک، پروفیسر،ڈاکٹر، پشتون ولی، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی بہ اشتراک لوک ورثہ اسلام اباد،۲۰۰۸،ص۶۷
vi: ایضا ، ص ۶۹
vii: ایضا ،ص ۷۲
viii: القران،پ ۲، س ۵ ،ایت ۲
ix: ربښتین، صدیق الله، پوهاند ، پښتنے لاربسود ،مخونه ۲۵،۲۴

## References;

1. Kaka khel, syed Bahadar Shah Zafar, pakhtana da tarikh pa ranra ke, university book agency Khyber pakhtunkhwa, ishaat 9th 2012, page 1091.
2. Qalandar Momand, Daryab, NWFP text book board Peshawar.
3. Feroz ullughat jaded, nia edition.
4. Shenwari, Nadar Shah, Jirga, Pashto Academy Peshawar University, ba ishtirak lok wersa Islamabad, 2008, page 59
5. Rajwali Shah Khatak, Professor, Dr. Pashtunwali, Pashto Academy Peshawar University, ba ishtirak lok wersa Islamabad, 2008, page 67
6. As above, page 69

7. As above, page 76
8. Al-Qur'an, para 6, sorah 5 , ayat 2.
9. Rekhteeen, Sadeeq ullqh, pohand, Pukhtany larkhod, pages 24,25